د معلوماتو - مينځپانګې

Imprimé par Air France/Printed by Air France

http://graphiste-siteweb.com

دغه خپرونه د اروپايي ټولنې د مالي ملاتړ په مرسته توليد شوې ده. د دغې خپرونې د محتوياتو مسوليت يووازې
د ،ECPAT د آلمان ،ECPAT په پروژه کې د شريکانو مسوليت دی: د بلجيم ReACT او د ECPAT د فرانسې
نشي کولای د اروپايي ټولنې د نظرونو ځرګندونه وکړي ،ECPAT او د انګلستان ECPAT هالنډ



# د معلوماتو - مینځپانګې



د عمومي مرستې په اړه



## روغتیا

که تاسې په هالنډ کې قانوني اوسیږئ، تاسې وړیا ډاکټر ته لاسرسی لرئ، چې د هغه سره تاسې خپل د روغتیا مسلې شریکولی شئ

که تاسې په هالنډ کې قانوني نه اوسیږئ، نو تاسې یوازې لازمي وړیا طبي پاملرنې ته د لاسرسي حق لرئ

ستاسې سرپرست به ډاډ ورکړي چې تاسې د اړتیا له مخې طبي پاملرنه ترلاسه کړئ

د پناه او انساني قاچاق په اړه

ستاسې سرپرست یا د کډوالۍ وکیل کولی شي ستاسې د اختیارونو په اړه تاسې خبر کړي

دا خورا اوږده او پیچلې پروسه کیدی شي

که تاسې د کوم بل هیواد ښخه یاست، تاسې دلته پاتې

کیدو لپاره اجازې ته اړتیا لرئ

پدې معنی چې تاسې په هالنډ کې د پاتې کیدو لپاره باید

د پناه غوښتنه وکړئ یا د اوسیدو جواز

تاسې کولی شئ د خپل سرپرست او وکیل په مرسته په پوله کې یا هرځای د پناه لپاره غوښتنه وکړئ





# تعليم

## ښوونځي ته د لاسرسي شرايط څه دي

په هالنډ کې ټول ماشومان (له 18 کلونو څخه کم عمر لرونکي) تعليم ته وړيا لاسرسی لري

ستاسې سرپرست به تاسې سره د مناسب ښوونځي په موندلو کې مرسته وکړي

مګر په ياد ولرئ، تاسې اړ نه ياست چې د ماشوم محافظت سيستم څخه ګټه پورته کولو لپاره رسمي اسناد يا د کډوالۍ وضعيت ولرئ



# ستاسي سرپرست به ستاسي لپاره څه وکړي

په هالنډ کې د پاملرنه کونکي نه درلودونکي ټولو ماشومانو لپاره ترهغه وخت پورې

سرپرست ګومارل کیږي چې عمر يې 18 کلونو ته ورسیږي

ستاسې سرپرست به ډاډ ورکړي چې ستاسې د پاملرنې او محافظت په اړه ټولې
پریکړې ستاسې د غوره ګټو په پام کې نیولو سره شوې دي

ستاسې سرپرست به تاسې سره مرسته وکړي چې طبي او رواني

پاملرنې، ښوونځي او مناسب استوګنې ته لاسرسی پیدا کړئ

ستاسې سرپرست به د اوسیدو جواز لپاره ستاسې د غوښتنلیک

پروسه هم ملاتړ کړي او ستاسې د پوښتنو ځوابولو لپاره به شتون ولري

د سرپرستانو په اړه

## ژباړونکي

تاسې د محکمې پروسې او د پولیسو د مرکو په جریان کې د وړیا
مسلکي, ژباړونکي درلودو حق لرئ

تاسې ښه به تل وپوښتل شي چې

نارینه ژباړونکي ته ترجیح ورکوئ یا ښځینه ته

که تاسې د خپل ژباړونکي سره راحت نه یاست، تاسې کولی شئ
خپل سرپرست ښه غوښتنه وکړئ چې ژباړونکی بدل کړي

ستاسې لپاره پدې پوهیدل مهم دي چې ستاسې ژباړونکی باید
ستاسې د خبرو محرمیت ته درناوی ولري

د محکمې د پروسې په اړه

په یاد ولرئ
چې ستاسې سرپرست
د ډاډ وړ شخص دی

هغه به ستاسې لپاره او
ستاسې پرځای عمل
وکړي



## وکیلان

د یوه ماشوم په توګه تاسې په هالنډ کې د وړیا وکیل درلودو حق لرئ
که تاسې د قاچاق قرباني شوي یاست، نو د قانوني مرستې هییت
(Raad voor de Rechtsbijstand) لخوا به یو وکیل وګومارل شي
د جلاشوي ماشومانو لپاره د سرپرستۍ اداره هم کولی Nidos،
شي ستاسې لپاره وکیل ومومي



## د وکیل سره شریک شوي معلومات خومره محرم وي

دغه معلومات چې تاسې یې خپل وکیل سره شریکوئ عموماً محرم وي

په هرصورت، د پناه غوښتنې معلومات ممکن شریک شي، خو ستاسې د خپل یا اصلي هیواد

دولت سره نه

په ورته توګه، د قاچاق وضعیت په اړه معلومات د پولیسو سره شریکول کیږي، مګر یوازې ستاسې د محافظت لپاره







# پولیس ستاسې لپاره څه کولی شي

پولیس ستاسې خبرو ته غوږ نیسي او ستاسې محافظت کوي که چیرې تاسې د تاوتریخوالي قرباني اوسئ یا د کوم داسې څه کولو لپاره اړایستل شوي یاست چې تاسې یې ترسره کول نه غواړئ

د پولیسو افسران د ډاډ وړ خلک دي

پولیس به تاسې ته زیان ونه رسوي

تاسې باید د کوم داسې شي لپاره مجازات  نشئ چې تاسې یې د ترسره کولو لپاره په زور اړ ایستل شوي یاست، حتی که غلط یا غیرقانوني هم وي

مګر ځینې وختونه ممکن پولیس په پیل کې پوهه نشي نو د مشورې لپاره خپل ټولنیز کارکونکي یا د وکیل سره خبرې وکړئ

د یوه
جرم په اړه راپور ورکولو لپاره، یا که تاسې د خپل ځان یا د کوم بل چا محافظت په اړه ویره لرئ، پولیسو ته تلیفون وکړئ

که تاسې عاجل مرستې ته اړتیا لرئ

**112**

د غیر عاجل مسلو لپاره

**0031-900-8844**

# انساني قاچاق څه شی دی

تاسي یا ستاسي ملګرو څخه کوم یو ممکن د قاچاق
قرباني وي، پرته
لدي چي وړباندي پوهه شئ

آیا تاسو په داسي یوه حالت کي راغلي یاست چي

جنسي عمل مو کړی وي یا جنسي عمل ترسره کړی

(د مثال په توګه، د چا په کور کي د کور کار کول یا د ماشوم پاملرنه، په
فابریکه یا ریستورانټ کي کار کول)

خیرات وغواړی، غلا وکړی یا جرم وکړی

مخدره توکي وکری، حمل ونقل کړی یا خرڅ کړی

د خرڅلاو لپاره د خپل بدن غړي راوباسی
پور د کار کولو له لارې یا د کوم بل خدمت وړاندې کولو له لارې
بیرته تادیه کول

آیا کله تاسي/ستاسي کورنی
ګواښل شوي

که تاسي لدي پوښتنو څخه یوي ته د «هو» ځواب ورکړئ، نو ستاسي
ملګری یا پخپله تاسي د قاچاق قرباني شوي یاست

د باوري
لوی شخص لخوا
د ملتیا کیدو حق، د وړیا وکیل درلودو حق،

وړیا طبي مرسته،
او
وړیا ژباړونکی

په ټولو حالتونو کي
پولیسو څخه غوښتنه
وکړئ چي
ستاسي حقونه درته
تشریح کړي



# تاسې حق لرئ چې وغږېږئ



ستاسې سرپرست به تاسې سره مرسته وکړي چې وړیا
مرستې (خواړه، استوګنه، شاور، ډاکټران، ښوونځي...)
ته لاسرسی ومومئ او ډاډ به ورانډې کړي چې ستاسې
د حقونو درناوی شوی دی

مسلکیان (پولیس افسران، سرپرستان، قاضیان، ډاکټران وغیره)
هغه خلک دي چې تاسې ورباندې باور کولی شئ

سرپرست یا ټولنیز کارکونکی به تاسې سره او
ستاسې لپار پریکړې کولو کې مرسته وکړي

تاسې د وړیا ژباړونکي درلودو حق لرئ

تاسې د وړیا وکیل درلودو حق لرئ، د مثال په توګه که
تاسې د محکمې پروسې په جریان کې په کوم شي تورن
شئ یا د پناه غوښتنې لپاره

## د ویریدو پرته

### ECPAT د ماشومانو دفاع هالنډ

د وړیا حقوقي مرستې ډیسک

تلیفون

003171-5160980

بریښنالیک

info@defenceforchildren.nl

### NIDOS

### د جلاشوي ماشومانو لپاره د سرپرستۍ اداره

تلیفون

0031-302391200

بریښنالیک

directie@nidos.nl

### COMENSHA

### که تاسي فکر کوئ چې استسمار شوي یاست

تلیفون

033 -

448 11 86

یا دي ویب پاڼي ته ورشئ

http://www.fromhereon.eu

http://childline.org.uk/

## د

## خپلو

## حقونو

## غوښتنه وکړ ئ



که ستاسو عمر له 18 کلونو څخه کم وي تاسو کوچنی ګڼل کیږی

REACT

د قاچاق احتمالي قرباني ماشوم

# ستاسي حقونه

# هالنډ

## تاسي
## سره مرستې لپاره
## یوځه ګټوره مشوره او
## اړيکې

د اروپايي ټولني لخوا په ګډه تمويل شوی

ecpat